د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه(ننگرهار)

محصلانو چارو معاونیت

د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت

# د چانسي ازموینو اخیستلو طرزالعمل

ترتیب کوونکی مرجع: د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت

تایید کوونکی مرجع: د محصلانو چارو معاونیت

۱۴۰۲ لمریز کال


بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

د لوړو زده کړو وزارت د ازموینې لایحې د لومړۍ مادې له متن سره سم، ازموینه د هغه تګلارې او پروسې څخه عبارت ده چې په یوه ټاکلې دوره کې د زده کړې د پوهاوي د ترلاسه کولو درجه یا د عملي کړنو او تحصیلي مهارتونو ارزونه پکې ترسره کیږي.

د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې په غوښتنه او د لوړو زده کړو وزارت د ازموینو لایحې مطابق د مؤسسې چانسي ازموینې په وخت سره په شفاف ډول اخیستلو او د چارو ښه مدیریت په موخه یاده طرزالعمل د محصلانو چارو معاونیت تر چتر لاندې د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت له لوري د چانسي ازموینو اخیستلو طرزالعمل تر عنوان لاندې د تقنیني سندونو په رڼا کې ترتیب او په لاندې ډول دی:

# د چانسي ازموينو اخيستلو شرايط

د ازموينو ډول د لوړو زده کړو وزارت د لېســانس مقررې د ځلورم فصــل (۲٦)مې مادې او د ازموينو لايحې (۸) مې مادې او کريډيټ سيستم (۱۹) مې مادې او د کانکور ازموينې طرز العمل په مشرح ډول بيان کړي دي چې عبارت دي: د کانکور عمومي او اختصاصي ازموينې، د سمستر منځنۍ ازموينه، نهايي او چانسي ازموينو څخه.

**چانسي ازموينې بايد د لاندې مواردو په نظر کې نيولو سره واخيستل شي:**

**الف:** په دوهم چانس ازموينو کې د ګډون شرايط:

- په دوهم چانس ازموينو کې هغه محصــلين ګډون کولای شــي چې نصــف کريډټ + ۱ څخه زياتو کريډيټونو کې پاتې نه وي، البته په طاقو کريډيټونو کې نيم کريډيټ د محصل په ګټه محاسبه کېږي.
- هغه محصلين چې په لومړي چانس ازموينو کې د شموليت حق ولري مګر د جدي ستونزو له کبله په نهايي ازموينه کې د نصف کريډټ +۱ څخه زياتو کريډټو کې غير حاضر وي. د رامينځته شويو ستونزو د بررسۍ په موخه کمېټه دايرېږي او د کمېټې د پريکړې په اساس کړنه ترسره کيږي.
- د دوهم چانس ازموينو سـوالونه ددې طرزالعمل د( دوهم او درېيم چانس ازموينو د سـوالونو تعداد) په نظر کې نيولو سره په تائيد شوي فارمټ کې ترتيب کېږي.
- د دوهم چـانس ازموينو مهـالويش درې ورځې مخکې د ازموينو څخـه د تـدريســي مـديريت لخوا د پوهنځي رياســت په تائيدۍ ترتيب او اړونده (محصــلانو چارو معاونيت، د ازموينو او نتايجو انســجام آمريت) خواو ته د راتلونکي اجرااتو لپاره استول کېږي.
- د دوهم چانس ازموينو ټولې شـقې او د محصـلينو په ازموينه کې د ګډون حاضـرياني د دوهم چانس ازموينو څخه مخکې د تدريســي مديريت لخوا ترتيب چې د هر مضــمون د چانس شــويو محصــلينو شــهرت (آی ډي نمبر، نوم، د پلار نوم، د نيکه نوم) پکې ټايپ شــوي وي او د ازموينو څخه يو ورځ مخکې د ازموينو او نتايجو انسجام آمريت ته تسليم کړي.
- د دوهم چانس ازموينې بايد د راتلونکي سمستر د منځنۍ ازموينو څخه مخکې واخيستل شي.
- د دوهم چانس ازموينې اخيستلو څخه وروسته، ممتحن استاد مکلف دی چې د دريو ورځو په موده کې سـوال پاڼې او ځواب پاڼې د ازموينو او نتايجو انسـجام آمريت ته او شـقه تدريسـي مديريت ته تسليم کړي.
- تدريسي مدير به د دوهم چانس ازموينو شقې د چيک څخه وروسته په وخت سره د نتايجو احصائيوي مديريت ته تسليموي ترڅو د نتايجو احصائيوي مدير د ازموينو نمرې سيستم ته پورته کړي.

**ب:** هغه محصلین چې دربیم چانس ازموینو ته معرفي شوي د (محصلینو د فیسونو، مکافاتو، او تخفیفونو د اجراء طرزالعمل) له مخې د هر مضــمون پر ســر (۳۰۰) درې ســوه افغانۍ فیس مالي آمریت ته تحویل کړي، ترڅو پـه راتلونکو کې خپلو درســونو ته توجه وکړي او په لومړي او دوهم چانس ازموینو کې بریالی شي ترڅو د دربیم چانس ازموینو ورکولو ته اړ نشي.

**ج:** په دربیم چانس ازموینو کې د ګډون کولو شرایط:

- د مالي آمریت څخه د دریم چانس ازموینو ورکولو د هماغه مضمون مالي SLIP په لاس کې ولري.
- هغه محصـلین چې په دوهم چانس ازموینو کې د شـمولیت حق ولري مګر د جدي سـتونزو له کبله په دوهم چانس ازموینو کې ګډون ونکړي د اړوندو ستونزو د بررسی په موخه کمېټه دایریږي او د کمېټې پریکړې په اساس تصمیم نیول کیږي.
- دربیم چـانس ازموینه د دوهم چانس ازموینو نتیجې د اعلان څخه وروســته د دوه اونیو په موده کې اخیستل کیږي.
- د دربیم چانس ازموینو مهالویش او سوالونه ددې طرزالعمل د( دوهم او دربیم چانس ازموینو د سوالونو تعداد) په نظر کې نیولو سره ترتیب کیږي.
- د دربیم چـانس ازموینو مهـالویش درې ورځې مخکې د ازموینو څخـه د تـدریســـي مـدیریـت لخوا د پوهنځي ریاســت په تائیدۍ ترتیب او اړونده (محصــلانو چارو معاونیت، د ازموینو او نتایجو انســجام آمریت) خواو ته د راتلونکي اجرااتو لپاره واستوي.
- د دربیم چانس ازموینو ټولې شـقې او د محصـلینو په ازموینه کې د ګډون حاضـریانې د دربیم چانس ازموینو څخه مخکې د تدریســي مدیریت لخوا ترتیب چې د هر مضــمون د چانس شــویو محصــلینو شــهرت (آی ډي نمبر، نوم، د پلار نوم، د نیکه نوم) پکې ټایپ شــوي وي او د ازموینو څخه یو ورځ مخکې د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت ته تسلیم کړي.
- د دربیم چانس ازموینو اخیستلو څخه وروسته، ممتحن استاد مکلف دی چې سوال پاڼې او ځواب پاڼې د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت ته او شقه تدریسي مدیریت ته تسلیم کړي.
- او تدریســـي مدیر به د دربیم چانس ازموینو شـــقه په وخت ســـره د نتایجو احصـــائیوي مدیریت ته تسلیموي ترڅو د نتایجو احصائیوي مدیر د دریم چانس ازموینو نمرې سیستم ته پورته کړي.

## د دوهم او درېیم چانس ازموینو د سوالونو تعداد او د نمرو ارزښت:

په دوهم چانس ازموینو کې د سوالونو تعداد (۱۰) لس دي چې له دریو برخو څخه ترتیب کیږي:

**لومړۍ برخه: تشریحي سوالونه:** په دوهم چانس ازموینو کې (٦) شپږ سوالونه تشریحي دي چې هر سوال سم ځواب (۱۰) لس نمرې لري، مجموعاً (٦۰) شپیته نمرې کیږي.

**دوهمه برخه: ځلور ځوابه سوالونه:** دوه سوالونه ځلور ځوابه چې هر سوال دوه جزونه لري او هر سم جز یې (۵) پنځه نمرې لري چې مجموعاً (۲۰) شل نمرې کیږي

**درېیمه برخه: صحیح او غلط سوالونه:** دوه سوالونه صحیح او غلط چې هر سوال دوه جزونه لري او هر سم جز یې (۵) نمرې لري چې مجموعاً (۲۰) شل نمرې کیږي.

یادونه: پورته د دریو برخو سوالونو مجموعه نمرې (۱۰۰) کیږي.

**په ازموینه کې د استاد مکلفیتونه:**

- استاد مکلف دی چې سوالونه د اړوند تحصیلي رشتې او د مضمون نوعیت ته په کتو تشریحي، ځلور ځوابه او صحیح او غلط ترتیب کړي.
- د سوالونو په فارمټ کې لازمه ده چې د ازموینو ډول ته په کتو استاد د اړوند مؤسسې، پوهنځي ، سمستر، ټولګي، ګروپ او د مضمون نوم ولیکي؛ همدارنګه د ازموینې د پیل او پای وخت او د هر سوال اړوند نمرې لازمي او ضروري دي؛ چې استاد محصلینو ته په کتبي ډول وضاحت ورکړي.
- استاد مکلف دی چې یو ورځ مخکې د ازموینې پیل څخه؛ خپل سوالونه په لیکلي ډول د طرزالعمل له مخې ټایپ او اړوند ډیپارټمنټ او یا د ازموینې فرعي کمېټې ته وسپاري.
- د ازموینې له پیل څخه مخکې د ممتحن استاد شتون په صحنه کې لازمي او ضروري دی.
- مضمون استاد باید په چانسي ازموینو کې د ازموینې ټولې پروسې: شقې ته نمرې رسول، شقه تدریسي مدیریت ته تسلیمول، او د پرچې د بیا کتنې پروسې پورې مسؤل او همکار دی.
- استادان مکلف دي چې د مضمون په شقه کې درج شوي نمرې بغیر د قلم خوردګۍ څخه اړوند مرجع ته وسپاري.

یادونه: په شقه کې ذکر شوي موارد (استاد نوم، مضمون نوم، ازموینې نېټه، ممتحن لاسلیک، دکمېټې مسؤل لاسلیک، د ډیپارټمنټ امر لاسلیک، تدریسي مدیر لاسلیک او د پوهنځي رییس لاسلیک ) د پروسې لمخې ترسره شي.

## د ازموینې وخت، مهالویش او د سوالونو ترتیب

۱. د ازموینې څخه یو اونۍ مخکې د ازموینې مهالویش چې د ازموینې ورځ، وخت، نېټه، او ممتحن استاد لرونکې وي او د پوهنځي اړوند مسؤلینو د لاسلیک څخه وروسته محصلینو، استادانو او اړونده خواو سره شریک شي.

۲. ددې طرزالعمل له مخې استاد مکلف دی چې د ازموینې څخه مخکې سوالونه په کتبي ډول ټایپ او د ازموینې فرعي کمېټې ته د تاییدۍ لپاره واستوي، کمېټه د تاییدۍ څخه وروسته سوالونه د چاپ لپاره د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت ته د ازموینې څخه یو ورځ مخکې تسلیموي.

**د ازموینې صحنې وخت:**

چې د لوړو زده کړو وزارت د لېسانس مقررې د څلورم فصل، (۲٦)مې ماده کې په مشرح ډول بیان کړي:( د سمستر وروستنۍ ازموینې لږ تر لږه وخت ٦۰ دقیقې او زیات نه زیات یې دوه ساعته دی.) او په هغه صورت کې زیاتې مودې ته اړتیا وي د مؤسسې د ازموینو اصلي کمېټه په دې هکله تصمیم نیسي، د سپین غر د لوړو زده کړو د ازموینو او نتایجو اصلي کمېټې د پریکړې په اساس د ازموینو صحنې وخت (۲) ساعته یا (۱۲۰) دقیقې دی چې د ازموینې وخت د ازموینې د شروع څخه محاسبه کېږي.

**د ازموینو پایلې:**

د لوړو زده کړو وزارت د لېسانس مقررې د څلورم فصل (۲۸)مې مادې په اساس د ازموینې پایلې د ازموینې له اخیستلو څخه وروسته د ۳ تر ۵ ورځو په ترڅ کې په رسمي ډول اعلانیږي.

**د سوال پاڼو فارمټ:**



لوړو زده کړو وزارت
سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه(ننګرهار)
( ) پوهنځی
د۱۴۰۲ لمزیز کال، بهاري سمستر، د دوهم چانس ازموینې سوالونه

مضمون:............ ټولګی:............ سمستر:............ سیکشن:............

**د ازموینو او نتایجو اصلي کمېټې عمومي لارښوونې:**

۱. د ازموینو پرمهال باید د ټولو محصلینو موبایلونه بند وي.
۲. د ازموینو په صحنه کې د مضمون اړوند کتاب، کتابچه، نوټ ... باید د محصل سره موجود نه وي.

لومړی برخه د (٦۰) نمرو: د هر سوال سم ځواب (۱۰) نمرې لري.

**تشریحي سوالونه!**

**اول سوال:** ............ لومړی سوال
**دوهم سوال:** ............
**دریيم سوال:** ............
**څلورم سوال:** ............
**پنځم سوال:** ............
**شپږم سوال:** ............

دوهمه برخه د (۲۰) نمرو: د هر سوال سم جز (۵) نمرې لري.

**څلور ځوابه سوالونه!**

**اووم سوال:**
**الف جز:**
الف: ب: ج: د:
**ب جز:**
الف: ب: ج: د:
**اتم سوال:**
**الف جز:**
الف: ب: ج: د:
**ب جز:**
الف: ب: ج: د:

دوهمه برخه د (۲۰) نمرو: د هر سوال سم جز (۵) نمرې لري.

**صحیح او غلط سوالونه**

لاندې سوالونه د ځواب په موخه؛ د ځواب پاڼې په لومړي مخ د صحیح ځواب په مقابل کې (ص) یا ( √) علامه او د غلط ځواب په مقابل کې (غ) یا (X) علامه په نښه کړئ.

**نهم سوال:**
الف جز: ............
ب جز: ............
**لسم سوال:** ............
الف جز: ............
ب جز: ............

ستاسو د کامیابۍ په هیله!

د استاد نوم: ____________ د فرعي کمېټې مسؤل نوم: ____________

یورته د چانسي ازموینو سوال پاڼو فارمټ د ازموینو او نتایجو اصلي کمېټې په جلسه (٦) ۱۴۰۲/٦/٦ ګڼه پروتکول کې د بحث څخه وروسته تائید شو.

فضل الرحمن زیارمل
د ازموینو او نتایجو اصلي کمېټې مسؤل


**د ځواب پاڼو فارمټ:**


د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي محصلانو چارو ریاست
سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)
د محصلانو چارو معاونت
د ازموینو او نتایجو انسجام آمریت
د چانسي ازموینو ځواب پاڼه [Answer Sheet]

**کتنګ فورمه:**



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د لوړو زده کړو وزارت<br>سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار)<br>د ۱۴۰۲ لمریز کال، د بهاري سمستر چانسي ازموینه<br>د آزموینې اصلي کمېټه<br>آزموینې د کتنګ پاڼه | | | | |
| دمحصل نوم: | | د حاضری شمېره: | | د کتنګ نمبر |
| دپلارنوم: | | مضمون: | | |
| ټولګی: | | سمستر : | | |
| سکشن: | | تعلیمي کال : | | |



د سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د چانسي ازموینو اخیستلو طرزالعمل په (۷) پاڼو کې ترتیب او د ازموینو او نتایجو اصلي کمیټې (٦)-(٦/٦/١۴٠٢) ګڼه - نېټه پروټوکول کې د بحث څخه وروسته تائید شوه.

فضل الرحمن زیارمل
د آزموینو او نتایجو اصلي کمېټې مسؤل